# قرآني بيان په نوم د

# مخکښينو او وروستنو ته نصيحت

د مدني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه امام مساجد (دعوتِ اسلامي) لاندې جوماتونو د

## د جُمعةُ المبارک

07 February 2025



د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

په 7 فروری، کال 2025ء (متوقع اِسلامي تاريخ 7 شَعبَانُ الـمُعَظَّم، کال 1446ھ) د جُمـعةُ الـمبارک

قرآني بيان په نوم د

# مخکنبينو او وروستنو ته نصيحت

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خوښ څوک؟
- د تقویٰ دارو د پاره انعامونه او زيري
- صحابهٔ کرام عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان او په شريعت باندې عمل
- د رَمَضَانُ الْمُبَارَک مياشت د تقویٰ د دولت حاصلولو ذريعه ده

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة (اسلامِک ريسرچ سنټر)

(شعبه بياناتِ دعوتِ اسلامي)

﴿تجاويز و شکايات﴾

+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَافِ (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت وکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

کوم کَس چې د نبئ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د قبر مبارک پهٔ خوا کښې ودريږي او دا آيت مبارک ولولي:

اِنَّ اللّٰهَ وَ مَلٰٓىِٕكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ عَلَى النَّبِيِّ ط يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا صَلُّوْا عَلَيْهِ وَ سَلِّمُوْا تَسْلِيْمًا ﴿۵۶﴾ (پاره:22، سورهٔ احزاب:56)

**ترجمهٔ کنزُ العِرفان:** بے شکه الله او د هغهٔ فرښتے پهٔ نبي باندې درود ليږي. اے ايمان والؤ! پهٔ هغوئي باندې درود او ډير ډير سلام وليږئ۔

حافِظ قسطلاني رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه فرمائي: **الله پاک** د خپل جلال، عظمت، اوچت شان او د ډيرې بے نيازئ باوجود پهٔ خپل خوږ محبوب صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې درودِ پاک ليږي، فرښتے هميشه پهٔ عبادت کښې د مصروفه کيدو او د **الله پاک** د قُرب موندلو باوجود درود ليږي، (اے خلقو!) تاسو خو د خُدائے د محبوب، د رسولانو د سردار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم محتاج يئ، ستاسو د هغوئي شفاعت پکار دے، د هغوئي پهٔ برکت تاسو پهٔ دُنيا کښې عزت بيامومئ، د هغوئي پهٔ برکت به پهٔ اخرت کښې کاميابي بيامومئ، ځکه تاسو ډير

حق دار یئ چې پۀ خپل مُحسِن او غم خوار آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې پۀ کثرت سره درود ولولئ---!! (1)

| | |
|---|---|
| تم سے جہاں کا نِظام تم پہ کروروں سلام | تم پہ کروروں ثنا تم پہ کروروں درود |
| نافِع و دافِع ہو تم شافِع و رافِع ہو تم | تم سے بس اَفزوں خُدا تم پہ کروروں درود (2) |

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مخکښینو او وروستنو د پاره نصیحت

**الله پاک** فرمائي:

وَ لَقَدْ وَصَّيْنَا الَّذِيْنَ اُوْتُوا الْكِتٰبَ مِنْ قَبْلِكُمْ وَ اِيَّاكُمْ اَنِ اتَّقُوا اللّٰهَ ؕ

(پارہ:5، سورۂ نسآء:131)

ترجمۂ کنزُ العِرفان: او بے شکه مونږه هٰغه خلقو ته کومو ته چې تاسو نه مخکښې کتاب ورکړے شو او تاسو ته هُم تاکید فرمائیلے دے چې د الله نه تل ویرېږئ -

زمونږه خالِق، زمونږه مالِک، زمونږه خوږ **الله پاک** ما ته، تاسو ته، مونږه او زمونږ نه مخکښینو اُمَّتونو غرض دا چې ټولو انسانانو ته یو نصیحت، یو وَصِیَّت وفرمائیلو، پۀ دې آیت مبارک کښې د دې نصیحت بیان دے، دغه نصیحت څۀ دے؟ فرمائي: اَنِ اتَّقُوا اللّٰهَ تقویٰ اِختیار کړئ! د **الله پاک** نۀ ویرېږئ-

## د ټولو نه اعلیٰ خوبي

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! لږ غور وکړئ چې الله رَبُّ اَلعٰلَمِین دے، **الله**

---

[1]... مسالك الحنفا، مطلبِ اول، صفحه:82-

[2]... حدائقِ بخشش، صفحه:269 ملتقطًا-

**پاک** د ټولو جهانونو پالونکے دے، **الله پاک** د بندګانو د پاره د ټولو نه زيات مهربانه، رحم کوونکو دے، هٔغه **الله پاک** خپلو بندګانو ته د تقویٰ نصيحت فرمائي، که د بنده د پاره د تقویٰ نه علاوه بَل څۀ خيز ډير فائده مند، ډير د خير والا وے نو **الله پاک** به خپلو بندګانو ته ضرور د هغې تاکيد فرمائيلو خو **الله پاک** د تقویٰ اختيارولو نصيحت وفرمائيلو، ټولو اَوّلِينو او آخرينو ته يـې هم د تقویٰ حکـم وکړو، د دې نه معلومه شوه **چې د الله پاک پۀ نزد د بنده پۀ خوبيانو کښې د ټولو نه اعلیٰ خوبي تقویٰ ده-**

| | |
|---|---|
| حرصِ دُنیا نکال دے دِل سے | بَس رہوں طالبِ رضا یارَبّ! |
| واسطہ میرے پیرومرشد کا | مجھ کو تُو مُتّقی بنا یارَبّ! |

## تقویٰ د ټولو نيکو اَصل دے

تقویٰ ډير غټ دولت دے- د حضرت ابو سعيد خُدري رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نه روايت دے، رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم يو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته نصيحت کولو ويې فرمائيل: عَلَيْكَ بِتَقْوَى اللهِ فَاِنَّهُ جِمَاعُ كُلِّ خَيْرٍ يعني پۀ تاسو باندې تقویٰ لازم ده چې بے شکه تقویٰ د ټولو نيکو مجموعه ده- (1)

| | |
|---|---|
| دے حُسنِ اَخلاق کی دولت | کر دے عطا اِخلاص کی نعمت |
| مجھ کو خزانہ دے تقویٰ کا | یااللہ! مری جھولی بھر دے |

## د اخرت تقسيم پۀ تقویٰ باندې شوے دے

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! پۀ دِين کښې د تقویٰ ډير اهميت دے- تر دې پورې

---

1... مسند ابی یعلی، جلد:1، صفحہ:324، حدیث:1001-

چې د اخرت د کاميابۍ معيار هُم په تقوىٰ باندې کېښودے شوے دے- د تَصَوُّف په مشهور کتاب **رِسَالَه قُشَيرِيَه** کښې دي، حضرت شيخ کَتَّانِي رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: د دُنيا تقسيم په ازمېښت باندې شوے دے او د اخرت تقسيم په تقوىٰ باندې شوے دے- [1]

يعني په دُنيا کښې عزت، مرتبه او مقام، اوچت والے، ترقي او کاميابي د هغۀ چا نصيب کيږي څوک چې زيات محنت کوي خو په اخرت کښې به اوچتې درجے، زيات عزت، زيات مقام او مرتبه د هغۀ نصيب کيږي څوک چې زيات تقوىٰ والا وي- په 12 سيپاره، سورۀ هُود، آيت: 49 کښې ارشاد دے:

اِنَّ الۡعَاقِبَةَ لِلۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۴۹﴾

(پاره:12، سورۀهود:49)

**ترجمهٔ کنزُ العِرفان:** بے شکه ښه انجام د پرهيزګارو د پاره دے-

په يو ځائے کښې اللّٰه پاک د جنَّت په باره کښې ارشاد فرمائي:

اُعِدَّتۡ لِلۡمُتَّقِيۡنَ ﴿۱۳۳﴾

(پاره:4، سورۀ آلِ عمران:133)

**ترجمهٔ کنزُ العِرفان:** هغه د پرهيزګارو د پاره تيار کړے شوے دے-

سُبۡحٰنَ اللّٰه! معلومه شوه چې **اللّٰه پاک** جنَّت هم د تقوىٰ دارو د پاره جوړ کړے دے، ځکه چې څوک زيات تقوىٰ دار وي، د هغۀ به په جنَّت کښې زياتې اوچتې درجے نصيب کيږي، د هغۀ به زيات نعمتونه نصيب کيږي-

## عزت تول په تهوله په تقوىٰ کښې دے

دغه شان په دِين کښې هم د عزت معيار په تقوىٰ دے- **اللّٰه پاک** فرمائي:

---

1... رساله قشيريه، باب التقوى، صفحه:142-

اِنَّ اَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ اَتْقٰكُمْ ؕ

(پاره:26، سورۂحجرات:13)

ترجمهٔ کنزُ العِرفان: بے شکه د الله پهٔ نزد پهٔ تاسو کښې زيات عِزَّت والا هغهٔ دے څوک چې پهٔ تاسو کښې زيات پرهيزګار دے۔

د دې آيت نه معلومه شوه چې د **الله پاک** پهٔ بارګاه کښې د عزت او د فضيلت معيار نسب نهٔ بلکې پرهيزګاري ده ځکه هر مسلمان له پکار دي چې هغهٔ پهٔ نسب د فخر کولو نه بچ شي او تقویٰ او پرهيزګاري اختيار کړي چې د **الله پاک** پهٔ بارګاه کښې د هغهٔ عزت او فضيلت نصيب شي۔ (1)

يو عربي شاعِر وائي:

مَايَصْنَعُ الْعَبْدُ بِعِزِّالْغِنٰی | وَالْعِزُّكُلُّ الْعِزِّلِلْمُتَّقِیْ

ترجمه: انسان به د مال او دولت پهٔ عزت باندې څهٔ وکړي؟ عزت خو ټول پهٔ ټوله د تقویٰ دار د پاره دے۔

## د تقویٰ دارو د پاره انعامونه او زيري

علمائے کرام فرمائي: **الله پاک** پهٔ قرآنِ کريم کښې د تقویٰ دارو ډير فضائل بيان کړي دي او هغوئي له يـې ډير زيري ورکړي دي مثلاً ❀ **د تقویٰ دارو د الله پاک** خصوصي مدد او نصرت نصيب کيږي ❀ **د تقویٰ دارو** پهٔ دُنيا او پهٔ اخرت کښې عزت نصيب کيږي ❀ **تقویٰ دارو** ته عِلم هم ورکولے شي، حکمت ورته هم عطا کولے شي ❀ **الله پاک د تقویٰ دارو** ګناهونه ورانوي ❀ دوئي ته ډير اجر عطا کوي ❀ **د تقویٰ دارو** مغفرت او بخښنه کيږي ❀ **الله پاک تقویٰ دارو** ته اسانی عطا کوي ❀ د هغوئي پهٔ کارونو کښې

1...تفسيرصراط الجنان، پاره:26، سورۂحجرات، زيرِآيت:13، جلد:9، صفحه:447۔

سهولت او نرمي کيښودلے کيږي ❁ **تقوىٰ دار** انسان د غم او مشقت نه نجات بيامومي ❁ **تقوىٰ دار** انسان ته د دُنيا فراخه رزق عطا کولے شي ❁ **تقوىٰ دار** انسان به په اخرت کښې د نجات والا وي ❁ **تقوىٰ دارو** ته د عبادت توفيق ورکړے کيږي ❁ **اللّٰه پاک** هغوئي د ګناهونو نه **محفوظ** ساتي ❁ **تقوىٰ دار** انسان په خپلو مقصدونو کښې کاميابي حاصلوي ❁ **اللّٰه پاک** د **تقوىٰ دار** انسان د رښتنولۍ ګواهي ورکوي ❁ د هغوئي د **اللّٰه پاک محبت** نصيب کيږي ❁ د **تقوىٰ دار** انسان عبادت قبليږي ❁ د **تقوىٰ دار** انسان د غم او ويرې نه نجات نصيب کيږي ❁ **اللّٰه پاک** به هغوئي ته په جنَّت کښې اوچتې درجے عطا کوي ❁ او د ټولو نه زيات دا چې **تقوىٰ دار** انسان د **اللّٰه پاک** په بارګاه کښې په اعلىٰ مقام حاصلولو کښې کاميابيږي- (1)

ہو اخلاق اچھا، ہو کردار سُتھرا | مجھے متقی تو بنا یاالٰہی!(2)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہ عَلٰی مُحَمَّد

## تقوىٰ څۀ ده؟

يوه ورځ د مسلمانانو دويم خليفه حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ حضرت کَعبُ الاَحبَار رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ ته وفرمائيل: اے کعب! ووايه چې تقوىٰ څۀ ده؟ حضرت کَعبُ الاَحبَار رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ عرض وکړو: اے اَميرُ المُؤمِنِين! آيا تاسو چرته په داسې لاره باندې تير شوي يئ په کومه باندې چې د ازغو جاخې [ګڼ ازغن بوټي] وي؟ اَميرُ المُؤمِنِين حضرت عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ وفرمائيل: آؤ، بالکل زۀ په داسې لاره باندې تير شوے يم- حضرت کعب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ عرض وکړو: بيا تاسو په داسې لاره باندې څنګه تيريږئ؟ ارشاد يې

1...نضرۃ النعیم، جلد:4، صفحہ:1120۔

2...وسائل بخشش، صفحہ:104۔

وفرمائیلو: زۀ ځان د ازغو نه بچ کوم او خپلې جامې راغونډووم- حضرت کعب رَضِیَ اللہُ عَنْہُ عرض وکړو: ذٰلِكَ التَّقْوىٰ اے اَمِيرُ الْمُؤمِنِين!

## بس دغه تقوىٰ ده- (1)

مطلب دا چې مونږه دې دُنيا ته راغلو، **اللّٰه پاک** مونږ ته پاک رُوح راعطا کړو، پاک صفا زړۀ يـې راعطا کړو، اوس به مونږه د دې دُنيا نه تيريږو او د اخرت طرف ته به ځو، لکه چې دا دُنيا يوه لاره ده او پۀ دې لاره باندې د ازغو جاخې دي، يو طرف ته شيطان دے، يو طرف ته نفس دے، يو طرف ته د دُنيا محبت دے، يو طرف ته د مال محبت دے، حَسَد، بغض، کينه، خواهش پرستي وغيره وغيره پۀ زرګونو ګناهونه او د ګناهونو پۀ زرګونو لارې، دا ټولې لکه چې د ازغو جاخې دي، مونږ ته د ژوند پۀ دې سفر کښې خپل پاک رُوح، خپل زړۀ د دې ازغو د جاخو (يعنې د ګناهونو) نه بچ کول او تيريدل دي، بس هم د دې خيز نوم تقوىٰ ده-

## تقوىٰ د 4 خيزونو د مجموعې نوم دے

د مسلمانانو څلورم خليفه اَمِيرُ الْمُؤمِنِين حضرت مولىٰ علي رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: تقوىٰ د څلورو خيزونو د مجموعې نوم دے: **(1)**: اَلْخَوْفُ مِنَ الْجَلِيْلِ (يعنې د **اللّٰه پاک** نه ويره) **(2)**: اَلْعَمَلُ بِالتَّنْزِيْلِ (يعنې پۀ قرآنِ کريم باندې عمل کول) **(3)**: اَلْقَنَاعَةُ بِالْقَلِيْلِ (پۀ لږه باندې راضي کيدل) **(4)**: اَلْاِسْتِعْدَادُ لِيَوْمِ الرَّحِيْلِ (د اخرت د سفر تياري کول)- [2]

معلومه شوه چې دا 4 صفتونه چې د کوم خوش قِسمته نصيب شي نو هغۀ تقوىٰ دار

---

1...تفسيربغوی، پارہ:1، سورۂبقرہ، زیرآیت:2، جلد:1، صفحہ:13-

2...بستان العارفين، تقویٰ کا بیان، صفحہ:107-

جوړ شي-

## (1): وړومبے صفت: د اللّٰه پاک نه ویره

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د **اللّٰه پاک** نه ویره یو مُهار [یعني واګې] دي، کوم چې انسان د ګناهونو نه منع کوي، که چرې دا واګې وشلیږي یا ډِیله شي (یعني په زړۀ کښې د **اللّٰه پاک** ویره پاتې نۀ شي) نو بنده په ګناهونو باندې زړور شي، ځکه د **اللّٰه پاک** نه ویره د تقویٰ دارو ډیر ضروري صفت دے-

## د حضرت عُمر بن عبد العزیز رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ د اللّٰه پاک نه ویره

منقول دي چې یو ځل حضرت یزید رقّاشي رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ د حضرت عمر بن عبد العزیز رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ په خِدمت کښې حاضر شو، حضرت عمر بن عبد العزیز رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ ورته وفرمائیل: ما ته څۀ نصیحت وکړئ! حضرت یزید رقّاشي رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ ووئیل: اے امیر المُؤمِنِین! تاسو وړومبے خلیفه نۀ یئ چې مرګ به درله راځي (یعني ستاسو نه مخکښې هم ډیر بادشاهان تیر شوي دي)- دا یـې چې واوریدل نو حضرت عمر بن عبد العزیز رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ په ژړا شو، اوئې فرمائیل: نور نصیحت وکړئ! حضرت یزید رقّاشي رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ ووئیل: ستاسو نه واخله تر د حضرت آدم عَلَیۡہِالسَّلَام پورې چې ستاسو څومره پلاران نیکونه دي، په هغوئې کښې اوس څوک هم ژوندے نۀ دے- حضرت عمر بن عبد العزیز رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ بیا په ژړا شو او اوئې فرمائیل: نور نصیحت وکړئ! حضرت یزید رقّاشي رَحۡمَۃُاللہِعَلَیۡہ ووئیل: د جنَّت او د دوزخ په مینځ کښې هیڅ منزل نشته (یعني زمونږه ځائے خو یا دوزخ دے او یا جنَّت، د دې نه علاوه بَل ځائے نشته)- دا خبره چې یـې واوریدله نو په حضرت عمر بن عبد العزیز

رَحْمَةُاللهِعَلَيْه باندې د **الله پاک** ویره غالبه شوه او هغوئي بے هوشه شو او په زمکه راپرېوتو-[1]

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** وګورئ چې د **الله پاک** نه ځنګه ویره ده- حضرت عمر بن عبد العزیز رَحْمَةُاللهِعَلَيْه خلیفه وو، د هغوئي سره حکومت وو، تاج او تخت وو، اختیارات وو، دا هغه څیزونه دي کوم چې عموماً خلق سرکشه کوي، چې حکومت، عهده، اختیارات میلاؤ شي نو خلق پۀ ګناهونو زړور شي خو حضرت عمر بن عبد العزیز رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د خلیفه جوړېدو نه مخکښې هم تقویٰ دار وو او د خلیفه جوړېدو نه پس هم تقویٰ دار وو، هغوئي پۀ خپل حکومت کښې ظلم نۀ وو کړے، د خلقو حقونه یې د ښپو لاندې کړي نۀ وو بلکې **عدل او انصاف** یې قائم کړے وو، ولې؟ ځکه چې حضرت عمر بن عبد العزیز رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د **الله پاک** نه ډېر ویره لرونکے وو-

## د الله پاک نه ویره به ځنګه نصیب کیږي؟

معلومه شوه چې د ګناهونو نه د بچ کېدو او د تقویٰ حاصلولو د پاره د **الله پاک** نه ویره ډېره ضروري ده- **الله پاک** دې زمونږه هم د خوف خدا نعمت نصیب کړي- د **الله پاک** نه د ویرې حاصلولو د پاره دې ❁ د قرآنِ کریم د تلاوت معمول جوړ کړے شي، خاص طور هغه آیتونه پۀ کومو کښې چې د **الله پاک** د عذاب، د دوزخ او د قیامت ذِکر دے، د هغه آیتونو ترجمه او تفسیر دې ولوستلے شي او پۀ ذِهن کښې دې کښېنولے شي او ښه پۀ توجه سره دې بیا بیا تلاوت وکړے شي ❁ پۀ کومو حدیثونو کښې **د الله پاک نه د ویرېدو** بیان دے، داسې حدیثونه دې ولوستلے شي ❁ **د الله پاک نه د ویرېدو** په باره کښې لیکلے شوي کتابونه دې ولوستلے شي ❁ **د الله پاک نه د ویرېدو**نکو بزرګانِ دِین سیرت دې ولوستلے شي ❁ جدول دې جوړ کړے شي او روزانه یا کم از کم پۀ هفته کښې

---

1...تنبیه المغترین، صفحه:49-

يو ځل دې هديرې ته حاضري وکړے شي، هلته دې فاتحه شريف هم ولوستلے شي او ورسره ورسره دې پۀ دې خبره باندې هم غور وکړے شي چې ډير زر به زۀ هم قبر ته راځم، هُغه وخت به زما د بے وسۍ حالت څۀ وي؟ بيا دې د قبر پۀ معاملو باندې غور هم وکړے شي- اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیۡم د **الله پاک** نه د ويرې دولت به مو نصيب شي ❁ د مكتبة الـمدينه كتاب **خَوفِ خُدا** ولولئ! د دې سره به هم اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیۡم د **الله پاک** نه پۀ ويره كښې اضافه وشي-

مرے اشک بہتے رہیں کاش ہر دَم | ترے خوف سے یاخُدا یااِلٰہی!
ترے خوف سے تیرے ڈر سے ہمیشہ | میں تھر تھر رہوں کانپتا یااِلٰہی!

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## (2): پۀ قرآنِ كريم باندې عَمَل

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علي المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د تقوىٰ دارو 4 صفتونه وښودل، پۀ هغي كښې دا دويم صفت دے: اَلۡعَمَلُ بِالتَّنۡزِیۡلِ يعنې پۀ قرآنِ كريم باندې عمل كول-

## د نيكانو خلقو يو مبارك انداز

دا هم ډير اهم او ډير ضروري صفت دے، امام شعراني رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہِ فرمائي: د **الله پاک** د نيكانو بندګانو پۀ اخلاقو كښې دي چې تر څو پورې به هغوئي ته د قرآن او سُنَّت او د شريعت پۀ رڼا كښې د څۀ كار واضحه حكم معلوم شوے نۀ وو، تر هُغه وخته پورې به يې هغه كار نۀ كولو-[1]

---

1...تنبيه المغترين، صفحه:21-

## صحابۀ کرام عَلَیۡھِمُ الرِّضۡوَان او پۀ شریعت باندې عمل

پۀ بُخاري شريف او مسلم شريف کښې روايت دے، د کوم خُلاصه چې څۀ داسې ده چې يو ځل يو څو صحابۀ کرام عَلَیۡھِمُ الرِّضۡوَان پۀ سفر باندې وو، پۀ لاره کښې پۀ يو ځائے کښې يو ګس صحابۀ کرامو عَلَیۡھِمُ الرِّضۡوَان ته عرض وکړو چې زمونږه سردار لړم چيچلے دے، آيا تاسو څۀ کولے شئ؟ يو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ وفرمائيل: آؤ! زۀ به يـې دَم کړم- نو هٰغه صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ د هٰغه ګَس سره لاړو او سورۀ فاتحه يـې ولوستله او مريض يـېپرې دَم کړو، د کوم پۀ برکت چې مريض ټيک شو- بيا هٰغه خلقو صحابۀ کرامو عَلَیۡھِمُ الرِّضۡوَان ته څۀ چيلۍ ورکړلې، هغوئي هٰغه چيلۍ خو واخستلې خو بيا يـې سوچ وکړو چې آيا دا چيلۍ اخستل زمونږ د پاره جائزې وې که نۀ؟ نو هغوئي د هٰغه چيلو نه فائده حاصله نکړه، چې کله مدينے منورې ته واپس حاضر شول نو د سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پۀ خدمت کښې يـې ټول حال عرض کړو، صاحبِ شريعت، رسولِ رحمت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هٰغه چيلو نه د فائدې حاصلولو اجازت عطا کړلو، بيا صحابۀ کرامو عَلَیۡھِمُ الرِّضۡوَان مطمئين شول- [1]

**اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عاشقانو!** د صحابۀ کرامو عَلَیۡھِمُ الرِّضۡوَان تقویٰ ته وګورئ! د دَمولو پۀ بدله کښې ورته چيلۍ ميلاؤ شوې وې، د هٰغه صحابۀ کرامو عَلَیۡھِمُ الرِّضۡوَان د پاره دا يو نوے حالت وو، د قرآن او د سُنَّت پۀ رڼا کښې ورته د هٰغه چيلو پۀ باره کښې شرعي حکم معلوم نۀ وو، ځکه صحابۀ کرام عَلَیۡھِمُ الرِّضۡوَان تر هٰغه وخته پورې منع وو چې تر څو پورې شرعي حکم نۀ وو معلوم شوے-

کاش چې مونږه هم دا عادت اختيار کړو، تر څو پورې چې راته د شريعت پۀ رڼا کښې د څۀ کار حکم معلوم شوے نۀ وي، تر هٰغه وخته پورې هٰغه کار ونکړو- څومره به ښه

1...بخاری، کتابُ الاجارہ، صفحہ:585، حدیث:2276 خلاصةً۔

وي چې مونږه د دارُ الافتاء اهلسُنَّت نمبر د ځان سره **محفوظ** کړو، چې کله هم د څۀ څيز پۀ باره کښې شک وي، فوراً شرعي راهنمائي حاصله کړو- اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ د دارُ الافتاء اهلسُنَّت پۀ نوم موبائل ايپلي کيشن هم جوړ کړے دے، پۀ دې کښې ډيرې زياتې فتوې موجودې دي او پۀ عِلمِ دِين مشتمل ډير مواد پۀ دې ايپلي کيشن کښې موجود دي- دا ايپلي کيشن پۀ خپل موبائل کښې انسټال کړئ، ېخپله ترينه هم فائده واخلئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ- **الله پاک** دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي- آمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ واٰلِہٖ وَسَلَّمَ.

زندگی ہو مری پروانے کی صُورت یاربّ! | علم کی شمع سے ہو مجھ کو محبت یاربّ!
میرے اللہ بُرائی سے بچانا مجھ کو | نیک جو راہ ہو، اس راہ پہ چلانا مجھ کو

## (3): قناعت

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د تقویٰ دارو صفتونه کوم چې د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علي المُرتضیٰ رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ بيان کړي دي ، پۀ هغې کښې دريم دا صفت دے: اَلْقَنَاعَةُ بِالْقَلِيْل يعنې پۀ لږه باندې قناعت کول-

د قناعت معنیٰ ده: پۀ قِسمت باندې راضي کيدل- دا هم د تقویٰ د پاره بنيادي صفت دے، د چا چې قناعت نصيب نۀ وي، د هغۀ د ګناهونو نه بچ کيدل ډير ګران وي، ډير داسې ګناهونه دي کوم چې هم د حِرص او د لالچ پۀ وجه وي ❀ هُم د لالچ پۀ وجه باندې د رشوت لين دِين کيږي ❀ هُم د لالچ پۀ وجه باندې د سُود کاروبارونه کولے شي ❀ هُم د لالچ پۀ وجه باندې د حرامو ذريعو نه مال حاصلولے شي ❀ هُم پۀ لالچ کښې د يتيمانو حق خوړلے کيږي ❀ پۀ لالچ کښې د راتللو سره ورور د ورور قتل هم کوي ❀ تر دې پورې چې بعضې لالچيان خلق

غیر مسلمه ملکونو ته د تللو د پاره خپل ځان **غیر مسلمه** هم لیکي (اَستَغفِرُالله!)-

کوم بنده چې د **الله پاک** په ورکړه باندې راضي نشي او قناعت اختیار نهٔ کړي، د هغهٔ د ګناهونو نه بچ کیدل ډېر ګران دي او څوک چې د ګناهونو نه بچ نشي نو هغهٔ به تقویٰ دار څنګه جوړیږي؟

## د قناعت پهٔ باره کښې د تقویٰ دارو دوه واقعې

❁ حضرت محمد بن واسِع رَحمَۃُاللہِ عَلَیه به د مالګې او سرکې سره ډوډۍ خوړله، هغوئي به فرمائیل: کوم بنده چې پهٔ دومره شان دُنیا باندې راضي شي هغهٔ د خلقو پهٔ مخکښې د ذِلّت نه بچ کیږي- [1] ❁ حضرت سفیان ثوري رَحمَۃُاللہِ عَلَیهفرمائي: پهٔ اوسنۍ زمانه کښې چې کوم بنده د وربشو پهٔ ډوډۍ باندې قناعت نهٔ کوي، هغهٔ پهٔ ذلت او رسوایۍ کښې اخته کیږي- یو ځل یو کَس د حضرت سفیان ثوري رَحمَۃُاللہِ عَلَیهپهٔ خدمت کښې عرض وکړو: آیا زهٔ مال جمع کولے شم؟ هغوئي وفرمائیل: پهٔ مال جمع کولو کښې 5 بدۍ دي: **(1)**: د دې سره اُمیدونه اوږدیږي (حالانکې زمونږه د یو سعت باور هم نشته، پته نهٔ لګي چې کله به مرګ راځي) **(2)**: د مال جمع کولو سره حرص زیاتیږي **(3)**: د مال جمع کولو پهٔ وجه بُخل (یعنې پهٔ کنجوسۍ) کښې اضافه کیږي **(4)**: د مال جمع کیدو پهٔ وجه بنده اخرت هیروي او پهٔ غفلت کښې اخته کیږي **(5)**: د مال جمع کولو د ټولو نه غټ افت دا دے چې د بنده پهٔ پرهیزګارۍ کښې کمے راځي- [2]

## د قناعت مختصر فضائِل

**الله پاک** دې مونږه د مال د حِرص نه محفوظ کړي ❁ قناعت (یعنې **الله پاک** چې څهٔ

---

1...تنبیه المغترین، صفحه:100-

2...تنبیه المغترین، صفحه:100-

درکړي وي پهٔ هغې باندې راضي کيدل) ډير لوئي نعمت دے ❀ قناعت د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت دے ❀ قناعت د صحابهٔ کرامو عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان طريقه ده ❀ قناعت د اوليائے کرامو رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡهِم طريقه ده ❀ قناعت اختيارولو والا د **الله پاک** محبوب دے ❀ پهٔ قناعت باندې د **الله پاک** رضا ميلاؤيږي ❀ د قناعت پهٔ برکت پهٔ قبر او حشر کښې اساني نصيب کيږي ❀ او قناعت جنَّت ته بوتللو والا کار دے-

ضرورت سے زیادہ مال ودولت کا نہیں طالِب
رہے بَس آپکی نظرِ عنایت یارسُولَ اللّٰہ
رہیں سب شاد گھر والے شہا! تھوڑی سی روزی پر
عطا ہو دولتِ صبر و قناعت یارسُولَ اللّٰہ

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد　　　صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيب!

## (4): د اخرت تياري

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ د تقویٰ دارو څلورم صفت دا وښودلو: اَلۡاِسۡتِعۡدَادُ لِيَوۡمِ الرَّحِيۡل يعني د دې دُنيا نه د سفر کولو د ورځې تياري کول-

## وه ويريږئ د مرګ د ورځې نه---!!

**الله پاک** پهٔ قرآنِ کريم کښې ارشاد فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ اتَّقُوۡا يَوۡمًا تُرۡجَعُوۡنَ فِيۡهِ اِلَى اللّٰهِ<br>(پاره:3، سورهٔ بقره:281) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او د هغه ورځې نه وه ويريږئ پهٔ کومه ورځ به چې تاسو د **الله** طرف ته ګرځولے کيږئ- |

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا د عبرت خبره ده، مونږه پهٔ دې دُنيا کښې ډېر څهٔ کوو، ❁ لوئي لوئي ډګرياني هم حاصلوو ❁ نوکري ❁ کاروبار ❁ د کټې، د خوراک ❁ غټې غټې منصوبے جوړول ❁ ماڼۍ، بنګلې، عالي شان محلونه ❁ د اعلىٰ نه د اعلىٰ منصب د پاره منډې تړړې وغيره ډېر څهٔ کوو خو د سوچ خبره ده، آيا مونږه د هغه ورځې د پاره تياري کوو پهٔ کومه ورځ چې به هر څهٔ دلته پريږدو او تيارهٔ قبر ته به کوزيږو، آه! هغهٔ به څومره د بے وسۍ ورځ وي؟ څومره بے وسي به وي؟ چې کله به حضرت ملک الموت عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړي، زمونږه عزيزان، خپلوان، اولاد، د ځان نه زيات محبت کوونکي، زمونږه دوستان، زمونږه مال، بينک بيلنس وغيره به مو هيڅ پکار نهٔ راځي، عزيزان به مو ګوته پهٔ خُله پاتې شي، ملک الموت عَلَيْهِ السَّلَام به مو رُوح قبض کړي او څوک به هيڅ هم نشي کولے- بيا به مونږ له غُسل راکړے شي او کفن به راته واچولے شي او تيارهٔ قبر ته به کوز کړے شو، بيا به مونږ يو او زمونږه اعمال به راسره وي- د غور مقام دے! مونږ ته پهٔ دې دُنيا کښې لږ وخت تيرول دي، هغه هم څومره دے؟ مونږ ته معلوم نهٔ دے، کيدے شي چې د راتلونکې ساه اخستو موقع راته هم ميلاؤ نشي- د دې باوجود چې مونږه څومره د دې دُنيا د پاره کوو؟ دومره نهٔ د دې پهٔ نيمه، آيا مونږ د قبر د تيارۍ د پاره کوو؟ کيدے شي چې نهٔ يې کوو-

| | |
|---|---|
| ياد رکھ ہر آن آخر موت ہے | بَن تُو مت انجان آخر موت ہے |
| مرتے جاتے ہیں ہزاروں آدمی | عاقل و نادان آخر موت ہے |
| بارہا عِلمی تجھے سمجھا چکے | مان یا مت مان آخر موت ہے |

## تقویٰ دار او د مرګ تياري

زمونږه د اَسلافو (يعنې د اللّٰه **پاک** نيکان او پرهيزګاره بندګان چې کوم وو،) د هغوئي

سره به بَس د قبر او د اخرت فِکر وو او دوئي به هر وخت د مرګ پهٔ تيارۍ کښې مصروف اوسيدل- ❁ خواجه سِرِّي سَقَطي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه 98 کاله پهٔ دُنيا کښې تشريف فرما وو، د څنګدن نه علاوه چا چرې هم هغوئي پهٔ ملاسته نهٔ وو ليدلي، هميشه به يـې عبادت کولو ❁ محمد جريري رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه يو کال پهٔ مکه مکرمه کښې وو، نهٔ اوده شو، نهٔ يـې ملا نيغه کړه او نهٔ يـې ښپې وغزولې ❁ اويس قرني رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه به چې د سحر نـمونځ وکړو نو د **الله پاک** ذِکر به يـې شروع کړو، ماسپښين به شو، د ماسپښين نه پس به بيا د **الله پاک** پهٔ ذِکر کښې مصروف شو، تر دې پورې چې مازديګر به شو، د مازديګر نه تر ماښام پورې، د ماښام نه تر ماسخوتن پورې، د ماسخوتن نه بيا تر سحره پورې به يـې هُم د **الله پاک** ذِکر کولو ❁ حضرت ابو بکر عياش رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه به هره ورځ 30 زره کرته سورهٔ اِخلاص لوستلو، روزانه به يـې 500 نفلونه کول، پهٔ ورځ کښې به يـې څو څو کرته د قرآنِ پاک ختم کولو ❁ امام اعظم، امام ابو حنيفه رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه تر 40 کالو پورې د ماسخوتن پهٔ اوداسه باندې د سحر نـمونځ ادا کړو، هره شپه به يـې پهٔ 2 رکعتونو کښې د قرآنِ کريم ختم کولو- (1)

اندازه ولګوئ چې دا د **الله پاک** نيکان بندګان به څنګه هر وخت بس هُم پهٔ نيک کارونو کښې مصروفه اوسيدل؟ د هغوئي سره د اخرت فِکر وو، هغوئي مرګ او قبر او اخرت يادولو والا وو- کاش چې مونږه هم د تقوىٰ دارو والا صفتونه اختيار کړو- کاش چې زمونږه هم د مرګ د تيارۍ توفيق نصيب شي- **الله پاک** دې توفيق راعطا کړي-

آمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ۔

1...جواهِرُالبيان، صفحه: 32-33 ملتقطاً-

## د رَمَضَانُ الْمُبَارَک میاشت د تقویٰ د حاصلولو ذریعه ده

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! د روژې میاشت، د غفران میاشت، د قرآنِ پاک د نازلیدو میاشت تشریف راوړونکې ده-

| | |
|---|---|
| عَجِّل عَجِّل یا رمضان | جان مری تجھ پر قربان |
| آ بھی جا ماہِ سُبحٰن | جلدی جلدی آ رمضان |
| جب بھی آتا ہے رمضان | جان میں آ جاتی ہے جان |

رَمَضَانُ الْمُبَارَک د تقویٰ د حاصلولو بهترینه ذریعه ده، **الله پاک** د رَمَضَانُ الْمُبَارَک د میاشتې د روژو د نیولو حکم کړے دے او د دې چې یې کومې فائدې ذِکر کړې دي، هغه هُم دا تقویٰ ده- **الله پاک** فرمائي:

| | |
|---|---|
| یٰۤاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَیْكُمُ الصِّیَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِیْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ ﴿۱۸۳﴾ (پاره:2، سورۀبقره:183) | ترجمهٔ کنزُ العِرفان: اے ایمان والؤ پۀ تاسو روژې فرض کړے شوې څنګه چې تاسو نه پۀ مخکښې خلقو باندې فرض کړے شوې وې چې تاسو پرهیزګاره جوړ شئ- |

د دې آیت مبارک د اخری حصې لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ پۀ وضاحت کولو د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحْمَةُاللهِعَلَیْه فرمائي: پۀ دې کښې د روژې د حِکمت ذِکر دے یعنې (اے ایمان والؤ!) پۀ تاسو باندې روژې دې د پاره فرض کړے شوې چې تاسو د دوزخ د وور نه بچ شئ یا پرهیزګاره شئ- نور فرمائي: ګناه کولو والا نفس دے او دا د خوراک څښاک

سره قَوِي (يعني طاقت ور) کيږي، چې کله پۀ روژه باندې د دۀ زور مات شي نو ستا به د ګناه طرف ته رغبت هم کم شي او پرهيزګاري به هم حاصله شي- [1]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! معلومه شوه چې د روژې نيولو پۀ برکت د سرکشه نفس زور ماتيږي، د ګناهونو رغبت کميږي او د تقویٰ دولت نصيب کيږي- د رَمَضَانُ الْمُبَارَک مياشت تشريف راوړونکې ده، د دې ښه ډير احترام وکړئ! ټولې روژې ونيسئ! پۀ دې کښې تلاوت وکړئ! ټولې تراويح وکړئ! د پيښمنې او د روژه ماتې برکتونه حاصل کړئ! اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! د تقویٰ عظيم دولت به مو نصيب شي-

| | |
|---|---|
| نصيب تيرے کرم سے چمک اُٹھا یارَبّ! | جہاں ميں پھر مہِ رمضان آگيا يارَبّ! |
| ہے لاکھ لاکھ ترا شکر پھر دیار مضان | کرم سے ذوقِ عبادت بھی ہو عطا يارَبّ! (2) |

## د کلمه اينډ دُعا (Kalma & Dua) ايپ تعارف

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اِسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو ډير ښکلے موبائل ايپلي کيشن پۀ نوم د "کلمه او دُعا" ***(Kalma & Dua)*** جوړ کړے دے- د دې ايپلي کيشن پۀ ذريعه ډير په اسان انداز کښې د ماشومانو تربيت کيدے شي ❀ پۀ دې ايپلي کيشن کښې د ماشومانو د پاره 6 کلمې د آډيو پۀ شکل کښې د حرفونو د اداکولو او د ترجمې سره ❀ د روزانه 16 مختلفې دُعاګانې مثلاً د اوبو څښلو دُعا ❀ د ډوډۍ خوړلو نه مخکښې او وروستو دُعا ❀ د پئيو څښلو دُعا ❀ د اوده کيدو دُعا وغيره د حرفونو د ادائيګۍ او ترجمې سره او پۀ مختلفو موضوعاتو باندې سُنت او آداب

1...تفسيرنعيمی، پارہ:2، سورۀبقرہ، زيرِآيت:183، جلد:2، صفحه:212-

2...وسائلِ فردوس، صفحه:26-

وغیره شامل دي- پهٔ خپل موبائل کښې دا ایپلي کیشن انسټال کړئ او فائده ترینه واخلئ او نورو له هم د دې ترغیب ورکړئ-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

**راځئ چې د بیان پهٔ اخره کښې یوه شرعي مسئله زده کړو:**

## صحیح څهٔ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا پهٔ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پهٔ ګوته کول)

**مسئله: پهٔ اُلټو کولو باندې روژه نهٔ ماتیږي-**

وضاحت: پهٔ عوامو کښې مشهوره ده چې د اُلټو کولو سره روژه ماتیږي حالانکې داسې نهٔ ده- د اُلټو کولو سره پهٔ هر صورت کښې روژه نهٔ ماتیږي بلکې د اُلټو کولو پهٔ وجه د روژې ماتیدو خاص صورتونه دي- علمائے کرام فرمائي: **(1)**: د روژې پهٔ حالت کښې که بخپله هر څومره اُلټۍ وشي (که یو بالټے ترینه ډک ولې نشي) پهٔ دې باندې روژه نهٔ ماتیږي **(2)**: که د روژې یادیدلو باوجود قصداً اُلټۍ وکړے شوې او که هغه پهٔ ډکه خُله وي نو بیا روژه ماتیږي **(3)**: قصداً پهٔ اُلټو کولو سره هم پهٔ هغه حالت کښې روژه ماتیږي چې پهٔ اُلټو کښې خوراک یا (اوبه) یا صَفراء (یعنې تروې اوبه) یا وینه راشي **(4)**: که پهٔ اُلټو کښې صرف بَلغم لاړل نو روژه نهٔ ماتیږي **(5)**: که قصداً یـې اُلټۍ وکړې خو لږې راغلې، پهٔ ډکه خُله نهٔ وې نو بیا روژه نهٔ ماتیږي **(6)**: که د ډکې خُلې نه کمې اُلټۍ وشوې او هُم د خُلې نه واپس شوې یا یـې بخپله واپس کړې، پهٔ دې دواړو حالاتو کښې به روژه نهٔ ماتیږي **(7)**: که بے اختیاره پهٔ ډکه خُله اُلټۍ وکړے شوې نو روژه ماته نهٔ شوه البته که

پۀ دېڅ کښېڅ يـې د يوې چنهې همره هم واپس کړې نو روژه به ماته شي- او که د يوې چنهې نه کمې وي نو روژه نۀ ماتيږي- [1]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہ عَلٰی مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظيفه)

## يَا مُؤمِنُ

څوک چې 115 کرته **يا مُؤمِنُ** ولولي او ځان پرې دَم کړي نو شِفا به حاصله کړي- اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم [2]

ذِکر و درود ہر گھڑی وِردِ زَباں رہے | میری فُضُول گوئی کی عادت نِکال دو!

**اللّٰه پاک** دې مونږ ته د نـمونځ د زده کولو او پۀ صحيح انداز کښې د ادا کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہ عَلٰی مُحَمَّد

---

1...فيضان رمضان، صفحه:133-

2...مدنی پنج سورہ، صفحه:247-